# د اصطلاحات سازۍ نظري مباحث

# Theoretical Discussions of Terms Formation

Muhammad Ali Dinakhel [1]

With the expansion and explosion of academic disciplines, terms formation has always been underlined by linguists and other experts of particular disciplines. Term formation starts from concept and moves to designation of a term. Although it is a branch of study of applied linguistics nevertheless it is a multidisciplinary approach. However some people consider it as an independent science because it has its scientific rules. From the concept and very beginning of this discipline till the formation of the terminology there are many stages, theories and principles which should be followed during the formation of terms. Terminology has its own theory, principles and procedures. This paper elaborates all these basic and theoretical discussions of terminology and term formation. It has also explored the ways of term formation in Pashto language.

په دې مقاله کښې [2] د اصطلاح سازۍ د نظري مباحثو څېړنه شوې ده ـ دا نظري مباحث به په دې مقاله کښې د اطلاقي مباحثو سره يو ځائے کړے شوي دي ـ يعني په دې مقاله کښې د اصطلاح پېژندګلو، د لفظ او د اصطلاح فرق، نيولوګزم، د اصطلاح نظريه، اصطلاح سازي او ژبپوهنه، تصور او اصطلاح، د اصطلاح سازۍ پاليسي جوړول، په اصطلاح سازۍ اثر کونکي عوامل، د اصطلاح سازۍ د څېړنې اصول، د اصطلاح د جوړولو مرحلې، د اصطلاح سازۍ طريقې، د اصطلاح سازۍ تاريخ، اردو ژبه کښې اصطلاح سازي، د اصطلاح سازۍ ضرورت او اهميت،پښتو اصطلاح سازي: مسائل او مشکلات او دا رنګ نور مباحث د څېړنې لاندې نيولے شوي دي ـ دا خبره چې دا نظري مباحث به د اطلاقي مباحثو سره څنګه يو ځائے کولے شي نو هغه داسې چې دا نظري مباحث به په دېتناظر کښې ګڼلے شي چې د دې مباحثو اطلاق به په پښتو ژبه کښې په اصطلاح سازۍ څنګه کولے شي ـ

1 Lecturer Area Study Centre (China, Russia & Central Asia), University of Peshawar, email: alidinakhel@gmail.com

2 دا مقاله د پېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ د سيوري لاندې "د پښتو ژبې پرمختګ لارې چارې" د سر ليک لاندې په يو جوړ شوي درې ورځني نړيوال کانفرنس (۶ نه ۸ اګست ۲۰۱۸) کښې په باره ګڼ کښې اوروے شوې وه

د ژبې په مباحثو کښې لنګويج پلاننګ ( د ژبې منصوبه بندي) يوه بنيادي موضوع ده ـ د دې موضوع پوهانو پلاننګ په درېو ډلو کښې وېشلے دے ـ

1. سټېټس پلاننګ يا د حيثيت منصوبه بندي

2. د زدکړې او د تدريس منصوبه بندي

3. د کارپس يا د موادو منصوبه بندي

د ژبې د سټېټس يا حېثيت نه مطلب دا دے چې ژبې ته په ائين کښې کوم حېثيت ورکړے شوے دے ـ او ايا ژبې ته د دربار او سرکار سرپرستي مېلاو ده کنه ده ـ په لنډو ټکيو کښې چې دغه ژبه سرکاري او دفتري ژبه ده کنه ده ـ

د زدکړې او تدريس د پاره ژبه په نصاب کښې شاملول غواړي او بيا ورته ځانګړي مدرسين پکار وي او د دغه مدرسينو تربيت هم پکار وي ـ

کارپس منصوبه بندي دا وي چې د ژبې کارپس (تحريري او تقريري) دواړو ته ترقي ورکړے شي او دواړه په جديد سائنسي طريقه محفوظ کړے شي ـ په دې مقاله کښې چې موږ په اصطلاحات سازۍ کوم بحث کوو نو د هغې تعلق د زدکړې، تدريس او کارپس سره دے ـ نو ځکه په دې مقاله کښې چې کوم تهيوريټيکل فرېم ورک کاروَلے شوے دے هغې ته LPP يا لېنګويج پلاننګ پاليسي وائي ـ او دا لېنګويج پلاننګ پاليسي د سرکار يا رياست کار دے ـ نو ځکه اصطلاحات وضع کول، منظورول، عام کول دا کارونه رياستي سرپرستي غواړي او که نۀ وي نو بيا به ډېر وخت غواړي ـ

## اصطلاح څۀ ته وائي

په دې مقاله کښې د اصطلاح سازۍ متعلق بحثونه کېږي نو ځکه دا لازمي ده چې اول د اصطلاح پېژندګلو اوشي ـ په اردو ژبه کښې د ټولو نه اول د "اصطلاح" لفظ په ۱۷۳۲ کښې په کربل کتها کښې موندلے شوے دے ـ

واعظ بهشت و بزم حسيناں کو ایک جان
تیرا لغت وہ ہے یہ مری اصطلاح ہے (1)

که د دې شعر تجزيه اوکړے شي نو د دې شعر نه د اصطلاح په باره کښې ډېرې خبرې په مخې ته راځي ـ اولنۍ خبره دا ده چې اصطلاح عامه ژبه نۀ وي بلکې د خاصو خلقو او د خاص علم ژبه وي چې د هغه خاص علم او فيلډ پوهان پرې پوهېږي ـ دوېمه مهمه اشاره چې په دې شعر کښې موندلے شي هغه د لغت (ليکزيکن) او د اصطلاح فرق دے کوم چې په دې شعر کښې واضح دے او وروستو به پرې نور بحث هم کېږي ـ

د اصطلاح دا يو تعريف هم شوے دے چې داسې لفظ يا اشاره چې د ويونکي او مخاطب نه علاوه پرې بل څوک نۀ پوهېږي هغې ته اصطلاح وئيلے شي ـ لکه په دې شعر کښې چې ئې د اصطلاح لفظ استعمال کړے دے ـ

نامہ بر مل رہا ہے غیر کے ساتھ
خط میں کچھ اصطلاح کیجیے گا

دلته مونږ دا وئيلے شو چې د خاص مطلبونو او پيغامونو دپاره مخصوص الفاظ استعمالول چې په هغې نور عام خلق کوم چې د دغه مخصوص فيلډ نه بهر وي ، هغه نۀ پوهېږي هغې ته اصطلاح وائي۔

اوس به په مختلفو لغتونو(ډکشنريانو) کښې د اصطلاح تعريف اوګورو چې دا پته اولګي چې دې مختلفو لغتونو د اصطلاح څۀ تعريف کړے دے ـ د ټولو نه اول د اردو لغت ګورو د اردو ژبې ډکشنري فېروز اللغات د اصطلاح په باره کښې داسې ليکي ـ

کسی علمی یا فنی گروہ کا کسی لفظ کے عام معنوں کے علاوہ کوئی خاص مفہوم مقرر کر لینا۔ مرادی معنی۔(2)

ترجمه: د يوې علمي يا فني ډلې خلق چې کله يو لفظ د يوې عامې معنې نه علاوه د يو بل خاص مفهوم د پاره مقرر کړي نو داسې لفظ ته اصطلاح وائي - مرادي معني ورته هم وائي -

د اصطلاح د پاره په انګرېزۍ ژبه کښې لفظ ټرم استعمالېږي چې بنياد ئې په لاطينۍ ژبه کښې دے - په لاطينۍ ژبه کښې terminus-term استعمالېږي چې معنې ئې ده limit in time, set or appointed time, and end boundary - د يو خاص شعبې جمله اصطلاحاتو ته ټرمينالوجي وائي - په انګرېزۍ ژبه کښې د ټرمنالوجي تعريف داسې شوے دے -

> The first meaning of the word terminology is "the set of special words belonging to a science, an art, an author, or a social entity,"for example, the terminology of medicine or the terminology of computer specialists. (۳)

ترجمه: د لفظ ټرمينالوجي وړومبۍ معني د مخصوص لفظونو يو سيټ دے چې د سائنس، ارټ، ليکوال يا د يو سماجي څيز سره تعلق لري - لکه د مثال په توګه د طب ټرمينالوجي يا د کمپيوټر ټرمينالوجي وغېره -

اکسفورډ ايډوانسډ لرنرز ډکشنري د ټرمينالوجي تعريف داسې کړے دے -

> The set of technical words or expressions used in a particular subject: medical terminology. (۴)

ترجمه: د تکنيکي لفظونو يا کلماتو مجموعه چې په يو خاص مضمون کښې استعمالېږي لکه د طب اصطلاحات -

ذاهد پښتو سيند د اصطلاح معني داسې کړې ده -۱- داسې ژبنے ترکيب چې ټولې کليمې په خپلو اصلي معنيو نۀ استعمالېږي- ۲- ايډيم، ټرم، ۳- محاوره(۵)

د دې تعريفونو نه که يو طرف ته د اصطلاح معنې په ډاګه کېږي خو بل طرف ته د لفظ او د اصطلاح په مېنځ کښې د فرق يو ابهام هم پيدا کېږي - نو ځکه دا ضروري ده چې اول د لفظ او د اصطلاح تر مېنځه فرق هم مخې ته راشي -

## د اصطلاح او لفظ فرق

اصطلاح د يو مقرون څيز يا د يو مجرد تصور (کانسپټ) د پاره استعمالېږي ـ د دې نه علاوه اصطلاح د يو څيز، واقعې، تصور يا تعلق د پاره استعمالېږي ـ ټول اصطلاحات لفظونه دي خو ټول لفظونه اصطلاحات نهٔ دي بلکې بعضې لفظونه اصطلاحات دي ـ د اصطلاح وضاحت يا تشريح پکار وي او د لفظ د تشريح ياوضاحت ضرورت نهٔ راځي يعني د کانټېکسټ نه ئې پخپله پته لګي ـ بله اهمه خبره پکښې دا ده چې د لفظ تعلق د سېنټېکس (نحو) سره دے او د اصطلاح تعلق د سيمانټېکس (معنيات) سره دے ـ د لفظ او اصطلاح پته د کانټېکسټ نه لګي ـ مثالونه "د پښتو نثر"په دې ترکيب کښې "د" يولفظ دے ـ خو که مونږ په ګرامر کښې وايو چې "د د استعمال" نو دلته "د" يوه ګرامري اصطلاح ده ـ

د دې بل مثال دا کېدے شي کله چې يو يوائې لفظ په يو خاص شعبه کښې بېله معني ورکوي لکه سوټ د کپړو په دکان کښې يوه معني ده او د قانون په ژبه کښې بله معني ده ـ دلته د کنټيکسټ (موقع محل) سره په معني کښې بدلون راغے ـ بل فرق پکښې دا دے چې لفظونه عام طور په خلقو کښې قبول شوي وي او معني او مفهوم ئې معلوم وي خو اصطلاحات دومره قبوليت او عموميت نهٔ لري بلکې د يو خاص شعبې پوهان پرې پوهېږي اصطلاح يو لفظ هم کېدے شي او د يو نه په زياتو لفظونو مشتمله هم کېدے شي ـاوس به په اصطلاح سازئ بحث کوو خو د دې نهٔ وړاندې دا ضروري دي چې د اصطلاح سازئ سره تړلې يوه بله اصطلاح هم کاروے کېږي چې انګرېزئ کښې ورته نيولوګزم وائي ـ د اصطلاح سازئ (ټرم فارمېشن) او نيولوګزم په مېنځ کښې د ابهام ختمولو د پاره د نيولوګزم تعريف دلته ورکوے شي ـ

## نيولوګزم

يو نوے سنګل لفظ چې جوړکړے شي او په وړومبي ځل په يوه ژبه کښې استعمالېږي ـ دې ته نيولوګزم وائي ـ دا خو يا په يوه ژبې کښې د موجودو عناصرو مجموعه وي او يا به د دغه ژبې د يو لسانياتي توکي او د نورو ژبو نه د قرضو توکو مجموعه وي او يا د يوې ژبې زاړهٔ صورتونه (لفظونه) استعمالول وي ـ په دې کښې که هر صورت وي دې ته نيولوګيزم وائي ـ په لنډو ټکيو کښې مونږ

داسې وئیلے شو چې نیولوګزم نوے لفظ جوړول، یا د زوړ لفظ نوے استعمال ته وائي لکه په انګرېزۍ کښې سیمینار ډېر مشهور لفظ دے خو چې کله د ابلاغ د نوو وسیلو په ذریعه یو ان لائن سیمینار کېږي نو دغه ان لائن سیمینار د پاره د ویبینار لفظ استعمالېږي ـ

## د اصطلاح سازۍ نظریه

لکه څنګه چې معلومه ده چې ټرمینالوجي یو ملټي ډسپلنري علم دے نو هم دغه وجه ده چې د ټرمینالوجي نظریه درې مختلف اړخونه لري : وقوفي، لسانیاتي، او مواصلاتي یا ابلاغي ـ هم د دې نظرېې په بنیاد د اصطلاح سازۍ عمل مخ په وړاندې ځي ـ د دې نظرېې په بنیاد د اصطلاح سازۍ اصول، طریقې او مدارج مقرر کړے شوي دي ـ

## اصطلاح سازي او ژبپوهنه

نوي اصطلاحات د نیولوګزم یا اصطلاح سازۍ د لارې چې کله ژبې ته راشي نو څۀ وخت وروستو دا د فطري ژبې حصه اوګرځي اګر چې په بعضې شعبو کښې داسې نۀ کېږي خو بیا هم څۀ نه څۀ برخه ئې د فطري ژبې حصه اوګرځي ـ ژبپوهنه کښې د ژبې د سائنسي مطالعې په خاطر د ژبې مختلف اړخونه د بحث لاندې راوستلے شي ـ په دغه حواله د ژبپوهنې مختلف شاخونه دي چې اصطلاح سازي پکښې د اطلاقي ژبپوهنې په زمره کښې راځي ـ په بنیادي توګه اصطلاحات د تصوراتو لسانیاتي نمائندګي ده ـ یعني په سورس لینګویج کښې کانسپټ (تصور) راشي او په ټارګټ لنګویج کښې ورته ټرم یا اصطلاح وضع شي ـد ټرمینالوجي تعلق د لسانیاتو او د هغه مخصوص علم دواړو سره دے د کوم علم سره چې دغه اصطلاحات تعلق لري ـ او لکه څنګه چې وړاندې ووئیلې شو دا یو ملټي ډسپلینري علم دے ـ په دې علم کښې لسانیات، علم موجودات یا ما بعدطبیعیات، منطق او علم اللغات شامل دي ـ دغه رنګ د ټرمینالوجي د نظرېې پېژندګلو درې اړخونه لري ـ کومو ته چې وړاندې په ټرمینالوجي نظریه کښې هم اشاره اوشوه، هغه درې اړخونه وقوفي، لسانیاتي او مواصلاتي یا ابلاغي اړخونه دي(۶) ـ لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې اصطلاح سازي د اطلاقي لسانیاتو یو شاخ دے خو څوک وائي چې دا یو جدا علم پکار دے ـ د کانسپټ او ټرم تعلق،

او د کانسپټ نه ټرم جوړېدل خپلې مرحلې او اصول لري ـ د ټرمينالوجي کار د کانسپټ نه شروع کېږي او ډيزيګنېشن يا ټرم طرف ته حرکت کوي ـ پـه وقوفي اړخ کښې په تصوراتو خبرې کېږي ـ په لسانياتي اړخ د ژبې په موجوده ساختونو او په مخفي ساختونو خبرې کېږي چې د تصوراتو د پاره استعمال کړے شي ـ ابلاغي اړخ د علم په منتقل کولو کښې د اصطلاحاتو د کار جائزه اخلي ـ دلته د تصور يا د کانسپټ نه د ټرم طرف ته د يو سفر ذکر اوشو نو اوس ګورو چې کانسپټ يا تصور څۀ شے دے ـ او د دې نه اصطلاح طرف ته سفر څنګه کېږي ـ

## تصور او اصطلاح

تصور يا خيال ته په انګرېزۍ کښې کانسپټ وائي ـ د يو څيز، د يوې خبرې يا د يو خيال راتلو ته مونږه کانسپټ وئيلے شو ـ دغه تصور نه بيا اصطلاح جوړېږي ـ د تصور نه د اصطلاح جوړېدلو خپلې مرحلې او طريقې دي ـ کله چې د يو تصور (کانسپټ) نه اصطلاح (ټرم) جوړېږي نو د دې لاندينو خبرو خيال به ساتلے کېږي ـ

### لسانياتي موزونيت

يعني مجوزه اصطلاحات دې د ژبې په قائم شوي نظام کښې معروف وي او با معني دې وي ـ معروف دا معني چې خلق دې ترې واقفيت لري او ډېر نا اشنا دې نۀ وي ـ او بله دا خبره چې با معني دې هم وي ـ

### لسانياتي بچت

يعني اصطلاحات لنډ او جامع پکار دي چې مواصلات او ابلاغ کښې اساني وي ـ بې ضرورته اصطلاحات اوږدول نۀ دي پکار ـ او چې څومره کېدلے شي نو لسانياتي اکايانې لنډول پکار دي ـ

### اصطلاح اخذ کول

يعني د اصطلاح د پاره داسې بنيادي الفاظ لټول پکار دي چې د دغه اصطلاح سره تړلې نورې اصطلاح ګانې هم د دغه اصلي لفظ (روټ) نۀ په اسانۍ راوتلے شي ـ روټ يا څيله بنيادي لټول

پکار دي کله يوه اصطلاح د يو لفظ نه موزون جوړېږي خو د دغه اصطلاح سره تړلې نورې اصطلاح ګانې بيا نۀ اخذ کېږي ـ نو په داسې صورت کښې هغه بنيادي لفظ معلومول او خپلول پکار دي دکوم نۀ چې د دغه اصطلاح سره تړلي نور الفاظ په اسانه جوړېدے شي ـ

## ټرمينالوجي پاليسي جوړول

اصطلاحات سازي او بيا دا عملي کول د لېنګوېج پلاننګ برخه ده او دا په بنيادي توګه د يو فرد کار نۀ وي ـ دا د ادارو کار وي ځکه يوائې اصطلاحات جوړول نۀ وي خو بيا هغه عام کول او استعمالول هم وي نو ځکه د حکومتي ادارو ضرورت وي ـ کله چې په يوه ژبه کښې نوي اصطلاحات جوړېږي نو په دې حقله يوه پاليسي جوړول پکار وي چې بيا ټول خلق او پوهان د هغه پاليسۍ لاندې کار کوي ـ او هم په دغه طريقه بيا اصطلاحات مقبوليت مومي ـ د ټرمينالوجي پاليسي جوړولو او په قومي لېول دا د عملي کولو د پاره دا لانديني عوامل په نظر کښې ساتل پکار دي ـ

## د ابادۍ عوامل

يعني څومره خلق دا ژبه وائي ـ په دې کښې تعليم يافته خلق څومره دي او بې تعليمه خلق څومره دي ـ په دې کښې خلق په کليو کښې څومره دي او په ښارونو کښې څومره دي او داسې نورې ډېرې خبرې د نظر لاندې ساتل پکار دي ـ

## کلتوري عوامل

(مقامي کلتور، فوکلور) : چې کوم خلق دا ژبه وائي د هغه خلقو د دود دستور او رسم و رواج يعني د مادي او غېر مادي کلتور د ټولو توکو نه ځان خبرول پکار دي ځکه چې دا څيزونه پېژندل د اصطلاح سازۍ په عمل کښې اساني پېدا کوي ـ

## ایتنو لنګوسټک عوامل

د ژبې مختلفو لهجو کښې په نسلیاتي بنیادونوچې کوم فرق دے دا لهجوي فرق د نظرلاندې ساتل پکار دي ـ

## جیو لنګوسټک عوامل (جغرافیائي عوامل)

په جغرافیائي عواملو کښې قدرتي وسائل، اب و هوا، کاني بوټي وغېره داسې عوامل دي چې د دې اثر په ژبه کېږي او بیا دغه اثرات په اصطلاحاتو هم کېږي نو ځکه دا عوامل هم د نظر لاندې نیول پکار دي ـ دلته دا هم ګټلے شي چې د یوې ژبې په مختلفو لهجو کښې چې د جغرافیائي عواملو له کبله کوم فرق راځي هغه فرق به مونږه د لهجو د نسلیاتي عواملو د فرق سره موازنه او تمیز څنګه کوو ـ

## سماجي نفسیاتي عوامل

د خلقو د نفسیاتو او د سماج د مسائلو نه هم ځان خبر ساتل پکار دي او چې کله اصطلاح وضع کېږي او دا عوامل په نظر کښې نۀ وي ساتلي شوي نو بیا د هغه اصطلاح په عملي کولو کښې مسئلې راځي ـ(۷)

## مذهبي عوامل لکه اسلامي تشخص خیال ساتل

دا ډېره بنیادي خبره ده او په خصوصي توګه په هغه ټولنو کښې چرته چې په کلتور باندې د مذهب اثرات ډېر زور وي ـ که د مذهبي عواملو خیال او نۀ ساتلے شي نو ډېرې لوے مزاحمت هم مخې ته راتلے شي ـ په خصوصي توګه چې کله مونږ اصطلاحات د نورو ژبو نه ترجمه کوو نو د دې قسمه خبره خیالډېر پکار دے لکه د شهید د پاره په انګرېزۍ کښې مرټیئر لفظ استعمالېږي چې په اسلامي ټولنه کښې د شهید دپاره دا لفظ نه قبلېږي ـ

## د میډیا کردار

د اصطلاحاتو په عام کولو کښې میډیا ډېر اهم کردار ادا کوي یعني کله چې اصطلاحات جوړ شي نو بیا د دغه اصطلاحاتو په عام کولو کښې او قبلولو کښې د میډیا ډېر اهم کردار دے ـ دغه

وجه ده چې د اصطلاحاتو جوړولو په وخت کښې دا کتل پکار دي چې کوم قسمه میډیا موجود ده او څومره کردار لوبولے شي ـ په خصوصي توګه هغه میډیا ډېره اهمه وي کومه چې په دغه مخصوص ژبه کښې نشریات لري ـ

### ملکي سرحدات او ګاونډۍ ژبې

په اصطلاحاتو باندې ملکي سرحدونه هم اثر کوي ـ مثال ئې په پښتو اصطلاحات سازۍ کښې د پښتونخوا او د افغانستان دے چې دواړو ملکونو د پښتو ادارې اکثر د یو بل فېصلې نۀ مني ـ او په اصطلاحاتو او په املا کښې د وحدت د نشتوالي ډېرې مسئلې راپېښې دي ـ دغه رنګ په کومه ژبه کښې چې اصطلاحات جوړولے شي نو ورته نزدې نورې ژبې هم په دغه عمل اثر غورځوي لکه په پاکستان کښې په پښتو ژبه د اردو اود انګرېزۍ اثرات او په افغانستان کښې په پښتو ژبه د فارسۍ یا دري اثرات ډېر ښکاره دي ـ

### ګټه او تاوان

دا هم کتل پکار دي چې د بلې ژبې نه د هر علم ټول اصطلاحات ترجمه کول او بیا مقبول ګرځېدل به څومره فائدې اولري او که خلق د بلې ژبې د اصطلاحاتو سره مانوس وي نو د نویو اصطلاحاتو په جوړولو یا ترجمه کولو کښې به دوي ته څومره مشکلات را پېښ شي ـ دا به هم کتل وي چې ایا دومره وسائل او ادارې شته چې د هر علم ټول اصطلاحات ترجمه کړي ـ دلته دوه خبرې په نظر کښې ساتل پکار دي یوه خبره د ادارو او د وسائلوده او دوېمه خبره د خلقو د مانوسیت ده چې خلق د بلې ژبې د مروجه اصطلاحاتو سره بلد وي نو نوي اصطلاحات به څنګه قبلوي ـ او که بیا هم په داسې حال کښې نوي اصطلاحات جوړشي نو ګټه به ئې ډېره وي او که تاوان ـ

## په اصطلاح سازۍ اثر کونکي عوامل

د اصطلاح سازۍ د پالیسۍ جوړولو په وخت کښې چې کوم عوامل په نظر کښې ساتل پکار وي د هغوي نه علاوه د یو مخصوص علم دپاره د اصطلاح سازۍ په دوران کښې چې

کوم عوامل اثرانداز کېږي نو هغه هم په نظر کښې ساتل پکار دي ـ

**مضمون يا شعبه**

د دې مطلب دا دے چې په کوم مضمون يا شعبه کښې اصطلاحات جوړېږي نو په نورو ژبو کښې هم د هغه مضمون اصطلاحات ګټل پکار دي ـ دلته دا هم ګټل پکار دي چې په دغه مضمون کښې د دغه خاص ژبې برخه څومره دے او دغه خاص ژبه په دغه مضمون کښې د نورو کومو ژبو نه استفاده کوي ـ

**اصطلاحات جوړونکي افراد**

دا بنيادي خبره ده چې کوم خلق اصطلاحات جوړوي د هغوي قابليت او تخصص څۀ دے ـ داسې خو به نۀ وي چې د ادبياتو پوهه دې د طب د پاره هم اصطلاحا ت جوړوي ـ

**د اصطلاحات سازۍ محرکات**

ولې د يوې ژبې پوهان يا پاليسي جوړونکي په دې مجبور شي چې هغوي اصطلاحات جوړوي ـ يعني کوم محرکات چې د اصطلاحات سازۍ په شا وي هغه ګټل غواړي ـ دا محرکات سياسي، سماجي، معاشي او دغه رنګ نور کېدے شي ـ

**د ژبې صوتي، صرفي او نحوي جوړښت**

د اصطلاحاتو جوړولو په وخت کښې د ژبې صوتي، صرفي او نحوي جوړښت ته ګټل پکار دي چې کوم قسمه اسانتياوې په اصطلاحاتو کښې امکان لري بائد چې هغه هومره اسانتياوې راوستلے شي ـ

## داصطلاح سازۍ د څېړنې اصول

د پاليسۍ جوړولو او د اثر انداز کېدونکي عواملو نه بعد د اصطلاح سازۍ د څېړنې اصول وضع کول پکار وي چې د دغه اصولو په رڼا کښې اصطلاحات جوړېږي او عملي کېږي ـ په دې سلسله کښې دا لانديني اصول د نظر لاندې ساتل پکار دي ـ

**د مضمون درجه بندي**

اول خو مضامین په غټو غټو برخو کښې تقسیمول پکار دي او بیا په هره برخه کښې چې لاندې کوم ذیلي تقسیم او تخصص شوے وي هغه پکار دے چې د نظر د لاندے اوساتلے شي ـ

**په مضمون عبور**

څوک چې په یو خاص مضمون کښې اصطلاحات جوړوي بائد چې هغه د دغه مضمون په هر اړخ عبور اولري ـ په ذیلي تقسیم کښې هم تخصص ته پام کرځول پکار دي ـ

**د مطلوبه معلوماتو د ډاکومینټېشن پوهه**

دا ډېره ضروري ده چې دغه معلومات به څنګه درج کولے شي ـ د معلوماتو د اندراج خپلې جدیدې طریقې دي هغه پېژندل پکار دي ـ

**د اصطلاح سازۍ د موادو د جمع کولو اصول پېژندل**

کانسپټ معلومول بیا که د اصطلاح جوړول د ترجمې په لار وي نو د نورو ژبو اصطلاحات راجمع کول او په هغې کښې بیا موزون اصطلاح غوروه کول وغېره ـ

**د ژبپوهنې علم**

د اصطلاح سازۍ د پاره د ژبپوهنې بنیادي علوم لکه فونولوجي، مورفولوجي وغېره باندې پوهېدل لازمي دي ـ

**د علم ساخت**

د تصور نه اصطلاح طرف ته تلل : دا بنیادي عمل دے اول تصور معلومول دي او بیا اصطلاح جوړول دي ـ د علم دا ساخت معلومول پکار دي ـ

### د اصطلاح اکایانې پېژندل

وړې یا ذیلي برخې کومې چې په یوه اصطلاح کښې کارولے شي هغه معلومول او پېژندل پکار دي

د اصطلاح د جوړولو مرحلې د اصطلاح سازۍ په نظریه د بحث کولو په وخت کښې د اصطلاح سازۍ په مرحلو هم لږ بحث شوے وه ـ دلته په ترتیب سره دغه مرحلې په ګوته کولے شي ـ د اصطلاح سازۍ درې مرحلې دي ـ

1. تصور
2. تعریف
3. اصطلاح

## د اصطلاح سازۍ طریقې

د دې ټولو یا مرحلو په رڼا کښې اصطلاحات په عمومي توګه په لاندینو درېو طریقو سره جوړېږي ـ

### نوي صورتونه جوړول

دا بالکل نوي الفاظ وي کوم چې د وړاندې نه موجود نۀ وي ـ د دې بیا خپلې طریقې دي چې دا دي ـ

- د سابقو لاحقو لګولو سره نوي اصطلاحات جوړول ـ
- ترکیب: یعني مختلف لفظونه را یوځاے کول او اصطلاح ترې جوړول ـ
- مختصر کول : الفاظ مختصر کول او نوي اصطلاحات ترې جوړول ـ
- موجوده صورتونه : په یوه ژبه کښې د موجوده الفاظو د ادلون بدلون نه اصطلاحات جوړول ـ

**کنورژن**

لفظ د اصطلاح په توګه استعمالول

مستعار لفظونه : د بل ډسپلن یا فیلډ نه الفاظ قرض اخستل

د یو خاص ژبې نه معنوي انتقال

د بلې ژبې نه اصطلاح قرضول

نېغ په نېغه قرض

ترجمه قرضول

## د اصطلاح سازۍ تاریخ

د صنعتي انقلاب او د نیچرل سائنس د ترقۍ په علومو کښې تقسیم او تخصص راغـې چې په نتیجه کښې ئې د اصطلاح سازۍ علم وده اوموندله ـ د اسلامي قانون د اصطلاحاتو د پاره په عربۍ کښې قوامیس مصطلاحات موجود دي لکه د الجرجاني کتاب التعریفات، د محمدعلي تهانوي کتاب کشاف اصطلاحات الفنون، د قاضي عبدالنبي احمد نګري کتاب دستورالعلما او د هګز ډکشنري اف اسلام وغېره مشهور دي ـ (۸)

## اردو اصطلاحات سازي

د ازادۍ نه وړاندې په متحده هندوستان کښې چې کومو ادارو د اردو اصطلاحات سازۍ په مېدان کښې کار کولو په هغوي کښې د یو څو ادارو نومونه او د قیام تاریخونه دا دي ـ

1. دهلي کالج، دهلي، ۱۸۲۹
2. سائنتیفیک سوسائټي لکهنو، ۱۸۳۱
3. اګره بک سوسائټي، اګره، ۱۸۳۳
4. مدرسه طبابت، حیدراباد (دکن)، ۱۸۴۵

5. انجمن مجمع علم و هنر، مدراس، ۱۸۵۳

6. میډیکل سکول، اګره، ۱۸۵۴

7. انجنئیرنګ کالج، ررکي، ۱۸۵۶ (۹)

په پاکستان کښې د انجمن ترقي اردو نه بعد چې د کومو ادارو په برکت د اصطلاحات سازۍ تحریک ترقي کړې ده د هغوي نومونه دا دي ـ

1. اردو کالج، کراچي، ۱۹۴۹

2. مجلس ترقي ادب، لاهور، ۱۹۵۰

3. سائنټیفیک سوسائټي، کراچي، ۱۹۵۵

4. مغربي پاکستان اردو اکېډیمي، لاهور، ۱۹۵۶

5. ترقي اردو بورډ، کراچي، ۱۹۵۸

6. مرکزي اردو بورډ، لاهور، ۱۹۶۲

7. مقتدره قومي زبان، اسلام اباد، ۱۹۷۹

مقتدره قومي زبان پاکستان د اصطلاحاتو ډېر کتابونه چاپ کړي دي چې په هغوي کښې د یو څو کتابونو نومونه دا دي ـ

1. محمد احمد سبزواري،اصطلاحات عمرانیات، ۱۹۹۵

2. ډاکټر ساجد الرحمان صدیقي، کشاف اصطلاحات قانون (اسلامي)، ۱۹۹۱

3. محمد صدیق قریشي، کشاف اصطلاحات تاریخ، ۱۹۸۸

4. ډاکټر محمد اسلم قریشي، اصطلاحات ډراما، ۱۹۸۴

5. سرفراز شاهد، کشاف اصطلاحات موسمیات، ۱۹۸۶

6. ډاکټر اختر امرتسري، فرهنګ اصطلاحات طب، ۱۹۹۵

7. صوفي ګلزار احمد، کشاف اصطلاحات نفسیات،۱۹۹۳

8. ډاکټر الهي بخش اختر اعوان، کشاف اصطلاحات لسانیات، ۱۹۹۵

## د اصطلاحاتو ضرورت او اهمیت

په یو مخصوص علم کښې د څېړنې عمل مخ په وړاندې بوتللو د پاره د دغه علم بنیادي اصطلاحات ایزده کول پکار دي او بغېر د اصطلاحاتو په دغه یو مخصوص علم پوهېدل ممکن نۀ وي ـ دغه رنګ د ترجمې د پاره هم لازمي دي چې د یوې ژبې نه خاص قسمه اصطلاحات او تصورات ترجمه کېږي نو پکار ده چې دغه تصورات او اصطلاحات په ټارګټ لنګویج کښې هم موجود وي ـ لکه د مخطوطه شناسۍ علم د پاره د دغه علم خپل اصطلاحات پېژندل پکار دي چې د دغه علم سره د تړلو خبرو وضاحت په اسانه اوکړے شي ـ ابلاغ په اسانه او موثره طریقې سره کولو د پاره هم اصطلاحات پېژندل او جوړول پکار دي ـ

## پښتو اصطلاحات سازي : مسائل او مشکلات

پښتو ژبه کښې د اصطلاحاتو جوړولو او پرمختګ کولو کښې چې کوم مشکلات او مسائل دي هغه په لنډو ټکیو کښې دلته داسې ذکر کولے شي ـ

1. یوه ژبه دوه ملکونه

2. د ادارو کمے

3. د طاقتورو ژبو مسئله

4. وسائل

5. سرکاري سرپرستۍ نشتوالے

6. مخصوص کلچر

## نتیجه

د دې مقالې د مباحثو نه مونږ دې نتیجې ته اورسېدلو چې په پښتو کښې د اصطلاحات سازۍ ضرورت او اهمیت شته خو ددې د پاره د بین الاقوامي اصولو په رڼا کښې ادارې او پوهان پکار دي چې د اصطلاحات سازۍ د سائنسي اصولو او د مقامي کلتور، جغرافیائي عواملو او د پښتو ژبې د مزاج مطابق اصطلاحات وضع کړي او بیا دغه اصطلاحات عام هم کړي چې خلقو ته په اسانۍ اورسېږي او هغوي پرې پوهه هم شي ـ په پښتو ژبه کښې د اصطلاحات سازۍ د عمل د پرمختګ د پاره لېنګوېج اتارټي هم جوړول پکار دي چې هغه متفقه اصطلاحات جوړوي او یا که په انفرادي توګه څوک اصطلاحات وضع کوي نو چې بیا ئې د دغه اتارټي نه منظوري اخلي ـ او کوم اصطلاحات چې د پښتو لېنګوېج اتارټي نه نۀ وي منظور شوي بائد هغه دې په رسنیو اومطبوعه موادو کښې نۀ شي پکارولے ـ بائد چې د لر او بر پښتانۀ لیکوالان او ژبپوهان د یو بل سرهد اصطلاحاتو په مد کښې همکاري اوکړي او د یو بل رایو ته درنښت ورکړي او ټولې فېصلې په دلیل او ثبوت سره اوشي نۀ چې په جذباتو سره ـ

## ماخذونه


۱: شاد، میخانۂ الہام ۱۹۲۷ء، صفحہ ۳۱۸

۲: فیروز اللغات اردو جامع

۳: Pavel, Silvia and Diane Nolet, Handbook of Terminology, Canada, Minister of Public Works and Government Services, 2001, p. XVII

۴: Oxford Advanced Learner's Dictionary

۵: ذاهد پښتو پښتو سیند، دانش خپرندویه ټولنه

۶: Guidelines for Terminology Policies, UNESCO, 2005, p.

۷: صدیقي، ډاکټر ساجد الرحمان، کشاف اصطلاحات قانون (اسلامي)، اسلام اباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۹۱، مخ: ۱۳

۸: شاجهانپوري، ډاکټر ابو سلمان، اردو اصطلاحات سازي، اسلام اباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۸۴، مخ: ۴

۹: شاجهانپوري، ډاکټر ابو سلمان، اردو اصطلاحات سازي، اسلام اباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۸۴، مخ: ۸